# نيکي ښه اخلاق دي، او ګناه هغه څه ده چې په زړه کې دې شک او تردد وي او نه غواړې چې خلک پرې خبر شي

له نواس بن سمعان رضی الله عنه څخه روايت دی چې نبي صلی الله علیه وسلم فرمايلي: «نيکي ښه اخلاق دي، او ګناه هغه څه ده چې په زړه کې دې شک او تردد وي او نه غواړې چې خلک پرې خبر شي». او له وابصة بن معبد رضی الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغلم، نو هغه راته وويل چې «ته راغلې څو د نېکۍ او ګناه په اړه پوښتنه وکړې؟» ما وويل: هو، هغه وفرمايل: «زړه دې وپوښته، نېکي هغه ده چې نفس پرې آرامه وي او زړه پرې سکون ومومي، او ګناه هغه ده چې په نفس کې دې ورسره شک او په زړه کې دې ترديد وي، که څه هم خلکو يې د (رواوالي) فتوا درکړې وي».
[صحيح دی] [لومړی حديث: مسلم روايت کړی دی، او دوهم حديث: احمد او الدارمي روايت کړی دی]

نبي صلی الله علیه وسلم د نېکۍ او ګناه په اړه داسې خبر ورکړی چې: د نېکۍ تر ټولو ستره ځانګړنه له تقوا سره د الله تعالی په وړاندې ښه اخلاق دي، او د خلکو سره د هغوی د اذيت پر وړاندې زغم، لږه غصه، ورين مخ، ښه وينا، اړيکې پالل، اطاعت، نرمي او مهرباني، د خلکو سره ښه ژوند تېرول او ملګرتيا ده او دا چې نېکي هغه څه دي چې زړه او نفس پرې آرامه شي. او ګناه هغه څه ده چې په نفس کې ورسره شک او ترديد راځي، پرته لدې چې سينه پرې پراخه شي، او په زړه کې ترې وېره وي چې دا ګناه ده، او نه غواړې چې دغه عمل خلکو ته ښکاره شي، ځکه چې دا عمل د خلکو له نظره بد دی، په ځانګړې توګه د هغو خلکو له نظره چې نمونه يې او د اخلاقو له اړخه ښېېږ وي، ځکه نفس طبيعتاً غواړي چې خلک يې ښې کړنې ووينې، نو که د ځينو کړنو په اړه يې د خلکو خبرېدل ښه نه ګڼل، نو هغه ګناه ده او خير پکې نشته؛ که څه هم خلکو يې په اړه فتوا درکړې وي، لدې امله تر هغه پورې يې په فتوا عمل مه کوه چې ستا په زړه کې يې په اړه د شک او شبهې نښې وي، ځکه چې تر څو پورې شبهه پر ځای او صحيح وي او مفتي په ناپوهۍ کې فتوا درکړې وي نو دا فتوا يې له منځه نشي وړلای؛ خو که فتوا پر يو شرعي دليل ولاړه وه، نو بيا پر فتوا غوښتونکي واجب دي چې رجوع ورته وکړي، که څه هم سينه يې ورته پراخه شوي نه وي، يعني زړه يې نه وي منلې.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/66540

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee